https://ilsaa.acf.hhs.gov
ILSAAinfo@icf.com
833-286-0864
Pashto

# د نويو راغلو افغانانو لپاره د مهاجرت حقوقي خدمات ایلسا- (ILSAA)

مونږ پر شرایطو وړ نویو راغلو افغانانو سره مرسته کوو تر څو هغو خدماتو ته چې تاسو ورته اړتیا لرئ لاسرسی ولرئ او د متحده ایالاتو حقوقي سیستم سره آشنايي پیدا کړئ.



**نوي راغلي افغانان چې پر شرايطو وړ دي :**

- د بشر دوستانه پرول (مشروطه آزداي) لرونکي افغانان
- بې سرپرسته افغان ماشومان
- نور هغه افغانان چې د کډوالو د بیا میشتېدنې دفتر ORR Policy Letter 22-01 په مکتوب کې تعریف شوي لکه د ځانګړي مهاجرت ویزې(SIV) لرونکي، د مشروطه دايمي استوګنې وضعیت لرونکي ځانګړي کډوال ،کډوال، پناه غوښتونکي، او داسې نور.

د يو افغان پرول لرونکي سفر ښايي پيچيلي او پرته له کافي اندازې حقوقي ملاتړ د متحده ایالاتو د کدوالۍ حقوقي سیستم سره مخامخيدل ښايي ستونزمن وي. پدې برخه کې موږ تاسو سره مرسته کولای شو.

**نوي راغلي افغانانو ته د ښه خدماتو وړاندې کولو په موخه ظرفیت جوړونه**

موږ په ټوله متحده ایالاتو کې د حقوقي خدماتو وړاندې کونکو ته روزنیز پروګرامونه، سرچينې او دوامداره ملاتړ وړاندې کوو، تر څو دوی وکولای شي چې په ښه توګه نوي راغلي افغانانو ته خدمات وړاندې کړي

**حقوقي خدماتو ته لاسرسی**

- موږ پر شرایطو وړ نوي راغلي افغانانو ته د مهاجرت حقوقي خدمات په وړیا توګه وړاندې کوو.
- موږ د دایمي اقامې ترلاسه کولو په لاروچارو لکه د کورنۍ سره بیا یو ځای کیدو، لنډمهاله حفاظت شوي وضعیت (TPS) او داسې نورې ورته مرستې وړاندې کوو.
- موږ د ژباړې خدمات، پشمول د پښتو او درى ژبو هم لرو.
- موږ کله چې ستاسو د حقوقي مرستې غوښتنه تر لاسه کړو، تاسو به د يو وړ مهاجرتي خدماتو وړاندې کونکي سره وصل کړو تر څو ستاسو اړتياوې پوره کړای شي.
- زموږ ويب پاڼې https://ilsaa.acf.hhs.gov څخه لیدنه وکړئ ترڅو نورو معلوماتو او سرچینو ته لاسرسی ومومئ.

زموږ وړیا شمیرې 0864-286-833 ته زنګ ووهئ یا مونږ ته په ILSAAinfo@icf.com بریښنالیک د لاري خپل نوم، د تيليفون شمېره، او خپله مورنۍ ژبه ( دژباړې د خدماتو د په موخه) را ولیږئ. د ایلسا - (ILSAA) د ټیم یو غړی به تاسو ته ځواب درکړي ترڅو ستاسو د شرايطو سره وړتوب تشخیص کړي.

د دې سند محتويات او مطالب يوازې معلوماتي جنبه لرى او کومه حقوقى موخه نلري. د کډوالو او مهاجرت د حقوقى مشورې لپاره د متحده ایالاتو کمېټې ( یو اس سی آر آی- USCRI ) دفتر خپل مالي تمويل د آزادي سيالۍ له لارې د امریکا متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت د ماشومانو او کورنیو ادراې څخه د 140D0423C0027 قرارداد په وسیله تر لاسه کړی دی. د نوي راغلو افغانانو لپاره د حقوقی خدماتو پروژه (آی ایل اس ای ای- ILSAA ) سل سلنه (۱۰۰٪) د امریکا متحده ایالاتو د فډرال حکومت لخوا تمويل کيزي.